شیرمحمد اميني ستانکزی
۲۰۲۰/۱۱/۲۳

# د تېر و ناخوالو نه تجربه واخلو
# او جګړې ته نه ووايو!

جګړه په ټوليزه توګه د يوه هېواد ټولي شتمنۍ له مينځه وړي، په جګړو ښکېلي خواوې دواړه له زوره کار اخلي، ځو خپل هدف ته ځان ورسوي، خو هدف ته رسيدل دومره آسانه خبره نه ده، بلکې دواړه لوري له مالي او ځاني زيانونو سره مخ کيږي .

دلته که په جګړې ښکيلې خواوې زيانمني کيږي، ولس ته هم زيان اوړي، لکه څنګه چې افغانستان څه دپاسه څلويښت کلنې جګړې، داقتصادي، فرهنګي، سياسي او نورو اړخونو کې وځپل، خو لا هم د جګړې پايله روښانه نه شوه، چې کوم لوري، خپل مقصد ته ځان ورساوه، بلکې دغې جګړې ډيرې نظامونه راوپرځول او هېواد يې په کندوالو بدل کړل .

اصلي خبره دلته ده، چې موږ ولې له تېرو وختونو تجربه نه اخلو!؟ ولي خپل ماغزه په کار نه اچو!؟ که په تېرو نظامونو يو ځغلنده نظر واچو، چې دوی د هېواد لپاره څه پلانونه او طرحې درلودې، خو بيا هم تر شاه يې بهرني استخباراتي کړی موجودې وې، چې دهمدغو کړيو په اشاره څه شوم اهداف ترسره کيدل او دولت هم د ولس له مخالفت سره مخ ول، نظام به خلکو ته غلط تعبيريدل او حتی کفري ټاپه به پرې لګول کيده، دا څه ؤ؟

په پښتو کې يو معقوله ده، (چې هم څيرل کوي هم ګنډل)نو بهرنيو هېوادونو دنظام په جوړولو کې به يې مرستې کولې، د وخت نظامونه به يې په پښو درول، خو په دننه هېواد کې به يې عقيدوي افغانان د نظام پر وړاندې هڅول، چې حکومت له ماتې سره مخ شي او ګټه يې همدغو شريکو هېوادونو ته پاتې شي .

دهېواد په دننه کې کړغيرنې جګړې ورځ تربلې زور واخيست؛ چې تراوسه هم روانه ده او دافغانانو په منځ کې د کلونو کلونو دښمنی لاپاتې دي . نو اصلي طراحان يې همدغه بيروني استخباراتي کړی دي، چې اوس هم دلته د سولې راتلو مخالفت څرګندوي، نه غواړي په افغانستان کې دې دايمي سوله راشي .

که د هېواد تاريخونه ولولو، ټولو ته جوتيږي، چې زورواکي، هېڅکله هم د قدرت پاتې کيدو ته بقا نه ده ورکړې، بلکې را چپه شوي او نومونه يې هم په تورو ليستونو کې راغلي، چې راتلونکي نسل به هم ورته يو ډول د حقارت په سترګه ګوري .

اصلي خبره داده، چې نظام پسې ولس ودريږي، ولس يې ملاتړې وي، نو داسې نظام به تل مضبوط او له بهرنيو دسيسو به خالي واوسي، خو چې هر لوري د ولس غوښتنو او خبرو ته غوږ نيوی وکړي .

را به شو اصلي موضوع ته، دا چې دولت او مخالف لوري يې، په دوحه کې دخپلمنځي اختلافونو د له منځه وړلو او په هېواد کې د تلپاتې سولې په راتلو خبرې اترې پيل کړي دي، نو دوی دې د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

ولس غوښتنو ته ځیرنه وکړي، چې ولس څه غواړي، له حکومت او وسلوالو ډلو څه غوښتنه ده !؟ سمه ده، چې دواړه لوري به له حده زیاتې غوښتنې لري، خو مهمه خبره د ولس هیلې دي، چې باید ورته دواړه خواوې رسیدنه وکړي .
ولس هیله من دي، چې د قدرت غوښتنې لپاره دې دواړه ښکېلې خواوې په نظام کې ځای ولري او مشترک نظام په جوړولو کې دغه روان ناورین ته دپای ټکی کېښودل شي .
که چېرته دواړه مذاکراتي پلاوي د یو بل نظرونو ته درناوی او غوږ اینسودنه نه کوي، دا به د زورواکۍ یوه بېلګه وي، چې خدای مه کړه، ددغي ملي پروسې تولې هڅې به په اوبو لاهو شي او د تېر په شان هېواد کې به دغمیزو اوښکې رواني وي .
خو مهمه او اړینه خبره ده، چې دواړه لوري دې یو څه انعطاف پذیری ومني او دځان غوښتې قدرت طلبی نه تېر شي. نو بیا د سولې پروسه د کامیابی په لور خوځښت پیدا کولی شي او ان شاالله پرته له زور او زورواکۍ به هېواد کې دسولې خوږې نغمې خورې وي، وګړي به د هوساینې فضاء کې ځان بسیا او هېواد به دښېرازۍ، سوکالی او پرمختګ په لوري حرکت ترسره کړې وي .

شیرمحمد امیني ستانکزی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځیر و لولئ